# حاجي عالمزېب خان شهيد

شګفته ملک



حاجي عالمزېب خان چې په 1960 کښې پېدا شوے ؤ، بنيادي تعلق ئې د دير سره ؤ، ولې استوګنه ئې د پېښور پي ايف ون مؤمن ټاؤن کښې وه. عالمزېب خان وکالت کړے ؤ، په 2008 کښې په وړومبي ځل ئې الېکشن کښې برخه واخسته او د پيپلز پارټۍ، ايم ايم اې او نورو ډېرو آزادو امېدوارانو له ئې ماتې ورکړه او د صوبائي اسمبلۍ غړے وټاکلے شو.

د حاجي عالمزېب خان نه يوه ښځه، پنځۀ بچي پاتې شول. حاجي عالمزېب خان چې د الېکشن نه مخکښې دومره په خلقو کښې پېژندګلو نۀ وه خو د الېکشن نه پس ئې په لږ وخت کښې خپل ځان ته يو مقام پېدا کړو.

حاجي عالمزېب خان يو ايماندار، خوش مزاجه، خوش اخلاقه انسان ؤ، د خپلو ښو اخلاقو او د خپلو عوامو او د پارټۍ د ورکرانو سره د بې کچه مينې په وجه ورپسې زرګونو خلقو وژړل.

مرحوم عالمزېب چې مرحوم وئېل مې ورته زړۀ نۀ غواړي، ځکه چې يقين مې نۀ راځي چې هغۀ غوندې خوږ او عظيم انسان نن مونږ کښې نشته.

د مرحوم حاجي عالمزېب خان تعلق ماسره د يو مشر ورور غوندې ؤ. هغۀ ماته د کشرې خور غوندې مينه راکوله.

حاجي عالمزېب خان به د ټولو زنانه ممبرانو ډېر قدر کولو خو د پارټۍ د زنانه ممبرانو په حقله به ئې وئيل چې دا زما خوېندې دي.

ماته به ئې وې چې دا ايم پي اې چې وي دا خو عارضي وي، مونږ به نن يُو، سبا به نۀ يُو تۀ د خپلې پارټۍ هلو ځلو ته زياته توجه ورکوه.

زۀ د سپورټس، کلچر، ټورازم، آرکيالوجي او يوتهـ افئيرز چيئر پرسن چې کله وټاکلې شوم نو

ماته ئې وې چې زما ډېر شوق دے چې زۀ د دې کمېټۍ ممبر شم نو ما ورته وې چې عالمزېب لالا زۀ به د خپلې کمېټۍ غونډو له تاسو سپېشل راغواړم او په یوولسم تاریخ زۀ اسمبلۍ ته لاړم او هغوي ته ما ووې چې عالمزېب صبب تۀ سپېشل دعوت ئې، ځکه چې هغۀ ماته ګیله کړې وه، ما خپل میټنګ د فرورۍ په دولسمه د زیارت په ورځ راغوښتے ؤ چې په کومه ورځ عالمزېب خان خاورو ته وسپارلے شو چې زۀ د دفتر نه بهر راووتم نو یو نایب قاصد راغے ماته ئې ووې چې حاجي عالمزېب خان زخمي شو.

د حاجي عالمزېب خان په حقله د دې افسوسناک غږ اورېدو سره زۀ ایل، آر، ایچ هسپتال ته لاړم، هلته په ګڼ شمېر کښې د پارټۍ ممبران او میا افتخار حسېن هم ناست وو، ټول ژړغوني وو، هېچا نه خبره نۀ کېدله، ما میا صبب نه پوښتنه وکړه چې عالمزېب لالا څنګه دے؟ هغوي راته ووې چې اپرېشن له ئې دننه کړے دے، دعا ورته وکړئ، د عالمزېب دومره خبرې دي چې کۀ زۀ ټوله ورځ کښېنم نو کېدے شي چې پوره نۀ شي.

د حاجي عالمزېب خان مړینه ما دپاره داسې ده لکه چې یو کشره خور د مشر ورور نه محرومه شي، حاجي عالمزېب خان یو خوږ انسان، ډېر مخلص ورکرؤ او همېشه به ئې د خپلې حلقې د خلقو دپاره آواز پورته کولو. عالمزېب خان به اکثر په تقریر کښې په ژړا شو.

څو میاشتې مخکښې په رېډیو کښې پروګرام ؤ. مونږ ایم پي ایز هم تلي وو، عالمزېب لالا پکښې مشر مبلمه ؤ، ډېر ښکلے پروګرام ؤ چې کله عالمزېب خان راپاڅېدو نو په خپل تقریر کښې ډېر



وژړېدو نو ما ورته ووې چې عالمزېب لالا ډېر دې خفه کړو، تاسو وژړل نو مونږ دې هم وژړولو نو ما ته ئې وې چې څۀ وکړم زړۀ مې ژاړي.

نن هغه ورځ ده چې د عالمزېب خان په مرګ مو زړۀ ژاړي، عالمزېب خو په تلو تلو کښې ټول خلق وژړول.

دغه ظالمانو چا چې دومره عظیم انسان شهید کړو، الله تعالي دې هغوي ته په خپله سزا ورکړي او پاک خدائے دې حاجي عالمزېب خان ته جنت الفردوس ورکړي.

نن مونږ کښې عالمزېب خان نشته خو د هغۀ ښکلې خبرې او د هغۀ مینه ټول عمر دپاره زمونږ په زړونو کښې ده.

خدائے دې د هغۀ کورودانې ته سره زمونږ صبر ورکړي او هغۀ له دې جنت الفردوس کښې ځائے ورکړي.

په آخره کښې به د هغوي دپاره د کشرې خور په حېث دا ووایم چې:

شهیده خور دې په ګولو سُوري ټټر نه قربان
چې پرې اسونه دنګېدلي هغه سر نه قربان
خدایه سپرلے کړې چې دا سرې وینې ګلونه شي بیا
د خوېندو مېندو لوپټې سرۀ نشانونه شي بیا